اې عائشې! الله تعالى مهربان دى او نرمي خوښوي، او پر نرمۍ هغه څه ورکوي چې پر سختۍ او نورو شيانو يې نه ورکوي

د مؤمنانو له مور او د رسول الله ﷺ مېرمن؛ عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي: «اې عائشې! الله تعالى مهربان دى او نرمي خوښوي، او پر نرمۍ هغه څه ورکوي چې پر سختۍ او نورو شيانو يې نه ورکوي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

نبي ﷺ عائشې رضي الله عنها ته د نرمۍ سپارښتنه وکړه، او ويې فرمايل چې الله تعالى پر خپلو بندګانو مهربان دى، اساني ورته غواړي نه سختي، او له توان څخه پورته تکليف نه ورکوي او دا خوښوي چې بنده يې د نرمۍ صفت ولري او خلکو سره اساني کوونکى وي؛ او نه غواړي چې انسان سخت او بدخويه وي، الله تعالى په نرمۍ سره په دنيا کې ښه نوم، د هدفونو ترلاسه کول او اسانتياوې ورکوي، او په آخرت کې لوى اجر لري، او دا ټول په نرمۍ او مهربانۍ سره راځي، نه په تاوتريخوالي، شدت او کلک زړه سره، نو نرمي لدې سره راځي، نه د نورو سره.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5797